# الله تعالی به زما له امت څخه یو سړی د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په حضور کې ځانته کړي

له عبد الله بن عمرو بن العاص - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايې چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «الله تعالی به زما له امت څخه یو سړی د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په حضور کې ځانته کړي ، او مخې ته به يې نهه نوي صحيفې خپرې کړي، هره صحيفه به د سترګو تر ليدو پورې (پراخوالی) ولري، بيا به ورته ووايي: آيا ته پدې کې له کوم شي څخه انکار کوې؟ آيا تاسو سره زما ساتونکو ليکوالانو ظلم کړی؟ نو هغه به ووايي: نه اې ربه، نو وبه وايې: آيا ته عذر لرې؟ هغه به ووايي: نه اې ربه، نو هغه به وفرمايي: هو، تاسو زمونږ سره یوه نيکي لرئ، نو یو کارت به راوويستل شي چې په هغه کې به: (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ ) يعنې زه ګواهي ورکوم چې حق معبود نشته دی مګر یو الله دی، او زه ګواهي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی، نو وبه وايي: وزن دې حاضر کړه، نو وبه وايي: دا کارت به د صحيفو پر وړاندې څه شی وي؟ نو هغه به وفرمايي: يقنيا تا سره به ظلم نه کيږي، وايي: دا صحيفې به د تلې په - یوه - پله کې کېښودل شي او کارت به په بله پله کې، نو صحيفې به پورته - سپکې - شي او کارت به دروند شي، ( ځکه ) د الله تعالی د نوم په وړاندې هيڅ شی نه شي درندېدلای».

[صحيح دی] [الترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې الله تعالی به د قيامت په ورځ د هغه له امت څخه يو سړی د ټولو مخلوقاتو په وړاندې راوغواړي تر څو ورسره حساب وشي، نو هغه ته به ۹۹ صحيفې وړاندې شي، چې هغه به د ده د بدو کړنو عملنامې وي چې په دنيا کې يې کړي دي، او د هرې صحيفې اوږدوالی به د سترګو د ليد په اندازه وي، بيا به الله جل جلاله دې سړي ته ووايي : آيا ته د هغه څه څخه انکار کوې چې په دې صحيفو کې ليکل شوي؟ آيا زما ساتونکو کاتبانو پرښتو تاسو سره ظلم کړی دی؟ سړی به وايي: نه اې زما ربه. نو الله تعالی به وفرمايي: آيا تاسو سره د هغه عملونو لپاره عذر شته چې تاسو په دنيا کې کړي دي؟ نو سړي به ووايي: نه اې زما ربه! زه هيڅ عذر نلرم. نو الله تعالی به وفرمايي: هو، تاسو له موږ سره يوه نيکي لرئ، او نن ورځ په تاسو باندې هيڅ ظلم نشته. وايي: نو يو کارت به راوويستل شي چې په هغه کې به ليکلي وي (أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله) زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی. نو الله تعالی به دې سړي ته وفرمايي: وزن دې حاضر کړه. نو هغه سړی به په حيرانتيا سره ووايي: اې ربه! دا کارت د دې صحيفو په مقابل کې به څه وزن ولري؟! نو الله تعالی به وفرمايي: په تا به هيڅ ظلم نه کيږي. وايي: صحيفې به د تلې په يوه پله کې کېښودل شي، او کارت په بله پله کې؛ نو هغه پله به سپکه شي چې صحيفې پکې وي، او هغه پله به درنده شي چې کارت پکې وي، نو الله تعالی به ورته بخښنه وکړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65033

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee